# بېشکه د آدم د ټولې اولادې زړونه د رحمان ذات د دوو ګوتو تر منځ دي، لکه یو زړه، نو هر لور ته چې وغواړي ګرځوي یې

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايې چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې: "بېشکه د آدم د ټولې اولادې زړونه د رحمان ذات د دوو ګوتو تر منځ دي، لکه یو زړه، نو هر لور ته چې وغواړي ګرځوي يې» بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: "ای د زړونو اړوونکی ذاته! زموږ زړونه خپل اطاعت ته وروګرځوه".
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې د آدم د اولادې ټول زړونه لکه د یو زړه په څېر د رحمان ذات د دوو ګوتو ترمنځ دي، نو هغه یې چې هر لور ته وغواړي هغه لورې ته یې اړوي؛ که وغواړي، پر حق یې پاتې کوي، او که وغواړي له حقه یې اړوي، د الله تعالی واک او تصرف په ټولو زړونو کې داسې دی لکه د یو زړه په څېر، هېڅ کار یې له بل کاره نه بوختوي، بيا نبي صلی الله علیه وسلم داسې دعا وکړه او ويې ويل: ای د زړونو اړوونکيه! چې کله یې طاعت ته اړوې، کله ګناه ته، کله ذکر ته او کله غفلت ته – نو ته زموږ زړونه خپل اطاعت ته واړوه.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6331